

# د قرآن کریم او نبوي سنتو په رڼا کې د ښې حکومتولۍ لارې چارې

(د علمي - څېړنيز سيمينار د مقالو ټولګه)

(لومړی او دوهم ټوک)

۱۴۰۵ هـ.ش

د قرآن كريم او نبوي سنتو په رڼا كې د ښې حكومتولۍ لارې چارې

(د علمي - څېړنيز سيمينار د مقالو ټولګه)



The ways of good governance according to the Quran and Prophetic Sunnah

ISBN 978-9936-672-09-3

2026

امارت اسلامی افغانستان

اکادمی علوم

معاونیت بخش علوم اسلامی

مرکز تفسیر و حدیث

# د قرآن کریم او نبوي سنتو په رڼا کې د ښې حکومتولۍ لارې چارې

(د علمي – څیړنیز سیمینار د مقالو ټولګه)

**کتنپلاوی:**

- څېړنپوه نور الحق عزیزی
- څېړنوال محمد امان رسولي
- څېړنوال حافظ محمد یعقوب نائل
- څېړنوال عبدالرحمن حامد
- مفتي حضرت بلال
- مفتي احمدالله صابري
- څېړنپوه برهان الله نیازی
- څېړنپوه عبدالرحمن حکیمزاد
- څېړنپوه سید حبیب شاکر
- څېړنپوه عبدالناصر باهر

**ځانګړتیاوې:**


**اهتمام:** سرمحقق نجیب الله امین

**د سیمینار کال:** ۱۴۰۴ هـ. ش برابر ۱۴۴۷ هـ.ق

**د چاپ کال:** ۱۴۰۵ هـ.ش نه ۱۴۴۸ هـ.ق

**د چاپ ځای:** مطبعه حبیب ناصری

**خپرندوی:** د افغانستان علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**آدرس:** د افغانستان علومو اکاډمي، شاه بوبوجان کوڅه ، شهرنو، کابل

**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د اړیکې شمیره :** ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹(۰۰۹۳)

**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست ایمیل:** info@asa.gov.af

**ISBN** : ۹۷۸-۹۹۳٦-٦۷۲-۰۹-۳



**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العٰلمين والصلوٰة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله وأصحابه أجمعين.

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


د مرکز یادښت ............................................................................ ۱
د قرآن کریم او نبوي سنتو په رڼا کې د ښې حکومتولۍ لارې چارې ........................ ۳
علمي- څېړنیز سیمینار ته د افغانستان اسلامي امارت د رئیس الوزراء پیغام ................ ۳
د افغانستان د علومو اکاډمي د عمومي رئیس شیخ الحدیث مولوي فرید الدین محمود پرانیستې وینا. ۵
مقدمه .................................................................................. ۱۰
د قرآن کریم او نبوي سنتو په رڼا کې د اسلام د سیاسي نظام پېژندنه / څېړنوال احمد الله صابري ...... ۱۲
مواصفات حکومتداری خوب / سرمحقق محمد کبیر شفق........................................ ۲۸
درسها و عبرتها از حکومتداری حضرت داوود و... / څېړنوال مفتي سید نور محمد محبي ................ ٤٦
د اسلامي نظام په وړاندې د رعیت مکلفیتونه / استاد عبادالله ځلاند.......................... ٦٣
تجلّی مفاهیم سیاست و مبانی حکومت در قرآن و س... / پوهاند دکتور فضل الرحمن فقیهی ...... ٧٤
په اسلامي حکومت کې د غیر مسلمو حقونه / څېړنوال مفتي شاه محمد قاسمي ............ ۱۰۸
د خلفای راشدینو په دوره کې د ښې حکومتولۍ... / څېړندوی عزیز الرحمن رحماني..... ۱۳٤
آمادگی های لازم دفاعی در حکومت داری خوب / سرمحقق نجیب الله امین ............... ۱۵۱
عدالت د ښې حکومتولۍ په سیورې کې / استاد عبدالحق صمدی ......................... ۱٦٤
اصل امانت و تخصص و نقش آن در حکومت‌داری خوب / محقق ذبیح الله فیاض ........... ۱۷۹
په ښه حکومتولۍ کې د ارشاد او دعوت اغیزمنې لارې چارې / څېړنیار رفیع الله نور ........ ۱۹٤
حکومت داری خوب در عرصه‌ی تولید و تکنالوژی / استاد عبدالسلام تائب ............... ۲۱۹
حفظ کرامت انسان در حکومت اسلامی / استاد ابراهیم حبیبی ........................... ۲۳۹
سالم انتقاد او پر حکومتولۍ یې اغېزې / څیړندوی اسدالله میاخیل ........................ ۲٦۰
عدالت درسایه حکومتداری خوب / معاون سرمحقق عبدالحمید وفا .......................... ۲۸۰
په اسلامي نظام کې د غیر مسلمو حقونه / څیړندوی احسان الله حلیمي........................ ۲۹۲
انتقاد سالم و تأثیر آن بر حکومت داری خوب/ پوهنیار عبدالله برهاني ...................... ۳۱۲
مواصفات امیر در شریعت اسلامی / ښوونیار رحمت الله سنګریار............................. ۳۲۱
په اسلامي حکومت کې د اطاعت حدود / مفتي ذبیح الله حقاني............................. ۳٤۱
د ښې حکومتولۍ اهمیت، اړتیا، معیارونه او ... / څېړنوال مفتي حافظ محمد یعقوب نایل ............ ۳۵۸

انتقاد سالم و تأثیر آن بر حکومت‌داری خوب در روشنی.../ پوهنیار حشمت الله محمدی ............ ۳۷۲
د بیان د آزادۍ اغېز په غوره حکومتولۍ / څېړنوال دکتور محمد یعقوب عبدالرحیمزی ........۳۸۹
عدالت د ښې حکمتولۍ په سیوري کې / مفتي نظیف الله حنیف ..............................۴۰۵
حدود اطاعت در حکومت اسلامی / پوهنیار امان الله نعوض..................................۴۲۵
د اسلامي نظام په وړاندې د رعیت مکلفیتونه / څېړندوی محمد کریم ادیب ...............۴۴۲
د قرآن کریم او نبوي سنتو په رڼا کې د اسلامي نظام... / څېړنوال محمد نبي المیداني .....۴۷۴
درس‌ها و عبرت‌ها از حکومت‌داری داود و سلیمان علیهماالسلام / پوهنیار محمد خالد مسعود ....... ۴۹۱
مواصفات امیر در شریعت اسلامی / استاد مفتی فیض الرحمن صارم..........................۵۰۳
حقوق غیرمسلمانان در نظام اسلامی / پوهنیار محمد نبی رحیمی ............................۵۰۹
روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسی... / داکتر امان الله اسلمي او عرفان الله ستاتکزی .......... ۵۳۰
په عدلي او قضائي چارو کې ښه حکومتولي / څېړنوال مفتي محمد ابراهیم حقاني ......... ۵۶۱
په ټولنیزو چاروکې ښه حکومتولۍ / پوهنیار ملا عبدالحد رفیقی ............................۵۷۴
نکته‌هایی از شیوه حکومت‌داری حضرت داوود و.. / پوهنوال سید خلیل کوهي ..............۵۸۸
حقوق غیرمسلمان در سایه نظام اسلامی / پوهندوی وحیدالله اعظمی .......................۶۰۸
په اسلامي نظام کې د غیر مسلمو حقوق / استاد عصمت الله عاصم...........................۶۲۳
د قران او سنتو په رڼا کې د اسلامي نظام مسؤلیتونه / استاد نصرت الله تائب ...............۶۴۰
په اسلامي شریعت کې د امیر مواصفات / مفتي رفیع الله غزنوي .............................۶۶۰
حکومتداری خوب در عرصه امور علمی و فرهنگی/ داکتر نجیب الله صدیقی .............۶۷۳

# د مرکز یادښت

اَلْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالْصَّلَوٰةُ وَالْسَّلَامُ عَلَىٰ سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ وَعَلَىٰ آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ.

په دې خبره کې شک نشته چې د اسلام د مبارک دین دوه ستر اساسي مصادر قرآن کریم او نبوي سنت دي چې د رسول الله (صلی الله علیه و سلم) د هدایت او لارښوونو په اساس پر دغو دواړو د منګولو ښخولو په صورت کې بې لارې ناشوني ده « تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا كِتَابَ اللَّهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّهِ» [الموطأ، حدیث:۳۳۳۸] (ما تاسې ته دوه څیزونه پرېښې دي چېرې به بې لارې نه شئ که په هغو(دواړو) مو منګولې ښخې کړې وې یو د الله تعالی کتاب او بل د هغه د نبي (صلی الله علیه و سلم) سنت دی) د امام ابوحنیفه (رحمه الله) په اصولو کې هم دغه دوه اساسي مصادر په سر کې راغلي دي او د اسلامي فقهې بنیاد تشکیلوي؛ نو د اړتیا او ضرورت په بنا وپتیل شوه چې د دغو اساسي مصادرو په رڼا کې ښه حکومتولي و څیړل شي.

له ښه مرغه زمونږ په ګران هېواد افغانستان کې د اسلامي امارت تر بیا واکمنیدو وروسته د قرآن کریم او نبوي سنتو په رڼا کې دښې حکومتولۍ لارې چارې په اړه د یو شانداره سیمینار تابیا ونیول شوه؛ څو د علماوو، شیوخو او څېړنکو د موندنو او لارښوونو په رڼا کې د مسلمانانو له پاره په ځانګړې توګه د افغانانو له پاره د لارې مشال وګرځي.

د همدې موخې د تحقق په پار د افغانستان د علومو اکاډمي د مشرتابه په لارښوونه او د اسلامي علومو د معاونیت د تفسیر او حدیث مرکز په نوښت او زیار سره (**د قرآن کریم او نبوي سنتو په رڼا کې د ښې حکومتولۍ لارې چارې**) تر سرلیک لاندې علمي- څېړنیز سیمینار د علامه احمد علي کهزاد د سیمینارونو او کنفرانسونو په تالار کې د چهارشنبې په ورځ ٤/ ١٤٤٧/٣هـ ق= ٥/ ١٤٠٤/٦هـ ش نېټه دایر شو.

له نیکه مرغه د ډېرو پوهانو او علمي حلقو غوښتنه او تلوسه پوره شوه لله الحمد سیمینار په بریالیتوب سره دایر شو د ښې حکومتولۍ مختلف اړخونه د لیکوالانو د مقالو په ضمن کې روښانه شول په سیمینار کې د مقالو د ارزونې په پار یو علمي کمیسیون ټاکل شوی ؤ چې مقالې به د هغوی له نظر نه وروسته د لوست او نشر له پاره وړ ګڼل کېږي دا دی د دې سیمینار (۳۸) مقالې په یوه ټولګه کې چاپ او د مینه والو په واک کې ورکول کېږي.

په سیمینار کې د مقالو د ارزونې په پار یو علمي کمیسیون ټاکل شوی ؤ چې مقالې به د هغوی

## د مرکز یادښت

له نظر نه وروسته د لوست او نشر له پاره وړ ګڼل کېږي دا دی د دې سیمینار ( ۳۸) مقالې په یوه ټولګه کې چاپ او د مینه والو په واک کې ورکول کېږي اوس چې د یاد سیمینار ټولګه د چاپ په درشل کې ده، چې ډېر ژر به د قرآن کریم او نبوي سنتو په رڼا کې د ښې حکومتولۍ د لارو چارو تړي خړوب، تازه او تاند معلومات به د یادې موضوع په هکله ورسره شریک شي.

په پای کې د تفسیر او حدیث مرکز علمي غړي ښاغلي څېړنپوه نجیب الله امین څخه مننه کوو چې د دې مهم او په زړه پورې سیمینار د مقالو د ټولګې د اهتمام او چاپ مسئولیت یې ومانه مقالې یې راټولې، ترتیب او د چاپ له پاره برابرې کړې؛ ترڅو وکولای شو چې د یاد سیمینار معلومات او لاسته راوړنې په چاپي بڼه له درنو هېوادوالو او د علم له مینه والو سره شریکې شي.

**په درنښت**

**مولوي عرفان الله عرفان**

**د تفسیر او حدیث مرکز رئیس**

# د قرآن کریم او نبوي سنتو په رڼا کې د ښې حکومتولۍ لارې چارې علمي- څېړنیز سیمینار ته د افغانستان اسلامي امارت د رئیس الوزراء پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالْصَّلٰوٰةُ وَالْسَّلاٰمُ عَلَىٰ سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ وَعَلَىٰ آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ.

په تېرو څو لسیزو کې د افغان مؤمن ولس د جهاد، قربانیو، هجرتونو او بیلابیلو مشقتونو د ګاللو یو لوی هدف دا و چې په افغانستان کې د اسلام د زرینو لارښوونو سره سم یو صالح، عادل او د خپل ولس د ټولو حقوقو ساتونکی اسلامي نظام را منځته شي. لله الحمد زمونږ ولس په دې مبارزه کې د کامیابۍ تر منزل پورې ورسید. په افغانستان کې د اسلامي نظام د تحکیم په وړاندې ټول موانع له منځه لاړل او دې ته زمینه برابره شوه چې د الله تعالی په دې ځمکه له الهي لارښوونو سره سم شرعي نظام رامنځته شي.

دا چې د قرآن کریم د آیتونو او نبي کریم (صلی الله علیه و سلم)د مبارکو احادیثو په رڼا کې د ښې حکومتوالۍ لارې کومې دي؟ څرنګه کولای شو د خیر القرون په مثال د اسلامي نظام واقعي مثال راژوندی کړو، اسلامي عدالت تأمین او د الله تعالی د بندګانو ټول حقوق په صحیح شکل رعایت کړو، دا هغه مهم مسائل دي چې باید په اړه یې هر اړخیزه څېړنه وشي؛ ترڅو د حکومتي مسئولینو لپاره د واقعي اسلامي حکومتولۍ مسیر معلوم او لاره روښانه شي.

دا چې د افغانستان اسلامي امارت د علومو اکاډمۍ لخوا د اسلام په رڼا کې د ښې حکومتولۍ د لارو چارو په اړه علمي- څېړنیز سیمینار جوړ شوی یو د قدر وړ اقدام دی؛ ځکه همدا اسلامي حکومت او نظام دی چې د مسلمانانو د عزت، پت او نیکمرغۍ ضامن بلل کیږي، ښه حکومتولي د شریعت او د اسلامي ملت غوښتنه ده؛ ځکه چې نظام د ولس د هوساینې او سوکاله ژوند د ترسره کولو په وړاندې مسئولیت لري، د اسلامي نظام واکمنان د الله تعالی د حکمونو په تطبیق او پلي کولو مامور او مکلف دي.

په قرآن کریم او نبوي سنتو کې موږ ته د عدالت، امر بالمعروف او نهی عن المنکر، مشورې کولو، شفافیت، د امانت رعایت او د مسلمان ولس د خدمت کولو لارښوونې شوې دي، د هېواد د درنو علماء کرامو، پوهانو او قلموالو دنده دا ده چې د خپلو علمي څېړنو او تحقیقاتو

په ترڅ کې د ښې حکومتولۍ د اصولو په اړه پراخې څېړنې وکړي او نتائج يې له اسلامي نظام سره شريک کړي؛ تر څو اړونده ادارې د يادو څېړنو او سپارښتنو په رڼا کې خپلې چارې سمبال کړي.

په پای کې الله تعالی ته دعاء کوو چې الله تعالی دې د اسلامي امارت ټول مسئولين د حکومتولۍ په دې ستره آزموينه کې برياليي کړي. الله تعالی دې موږ ټولو ته توفيق راکړي چې د اسلام له غوښتنو سره سره د نظام چارې ترسره او د خپل مؤمن ولس ټول حقوق په صحيح شکل سره رعايت کړو.

**آمين يارب العلمين**

**والسلام عليکم و رحمة الله و برکاته**

**الحاج ملا محمدحسن اخند**

**د افغانستان اسلامي امارت رئيس الوزراء**

# د افغانستان د علومو اکاډمي د عمومي رئیس شیخ الحدیث مولوي فرید الدین محمود پرانیستې وینا

## اعوذ بالله من الشیطان الرجیم

## بسم الله الرحمن الرحیم

﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ﴾ صدق الله العظیم

محترمو علماء کرامو، پوهانو، مجاهدینو او درنو ګډونوالو!

تاسو ټولو ته په دې علمي سیمینار کې د ګډون لـه املـه د زړه لـه کـومې ښـه راغلاسـت وایم. له الله تعالی څخه هیله لرم چې زمـوږ دا سـیمینار، علمـي بحثونـه او څېړنیـزې مقـالې د اسلامي امت او زموږ د هېواد لپاره ګټورې تمامې شي، او الله تعالی موږ هغو اساسي ستونزو ته متوجه کړي چې د امت د ضعف، وروسته پاتې کېدو او سرګردانۍ اصلي عوامل ګڼل کېږي.

د امت د اصلاح او سمون په اړه امام مالک رحمه الله یو ډېر مهـم اصـل بیـان کـړی دی: «**لن یصلح آخر هذه الأمة إلا بما صلح به أولها**» یعنې د دې امت وروستنۍ برخه به یوازې په هغو اصولو اصلاح کېږي چې لومړنۍ برخه یې پرې اصلاح شوې وه.

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مبعوث شو، بشریت د جاهلیت په ژورو تیارو کې ډوب و. د شرک، ظلم، بې عدالتۍ، اخلاقي فسـاد او انسـاني انحطـاط داسـې فضـا حاکمـه وه چې د نجات هیڅ څرک نه تر سترګو کېده. د روم او فارس سترې امپراتورۍ په دوامداره جګـړو بوختې وې؛ پـه لکونـو انسـانان وژل کېـدل، ښـارونه او سـیمې ورانېـدلې او بشرـیت د بېلابېلـو ظلمونو تر فشار لاندې ژوند کاوه، په عربو کې قـومي تعصـب، خـونړۍ دښـمنۍ، د شرابـو عـام استعمال، د بتانو عبادت او د ژوندیو لوڼو ښخول د ټولنیز ژوند یوه برخـه ګرځېـدلې وه. د اوس او خزرج قبیلو ترمنځ کلونه کلونه جګړې روانې وې او د انسان د کرامـت تصـور تـر پښـو لانـدې شوی و. خلک دومره په جهالت کې ډوب وو چې له یوې خوا به یې بتانو ته سـجده کولـه او لـه بلې خوا به یې خپلې لوڼې ژوندۍ خښولې.

په همدې حال کې الله تعالی په مکه مکرمه کې هغـه یتـیم ماشـوم د بشرـیت د هـدایت لپاره مبعوث کړ چې د پلار له وفات وروسته نړۍ ته راغلـی و او پـه کوچنیـوالي کـې یـې د مـور

سیوری هم له لاسه ورکړی و. خو همدغه مبارک شخصیت د الله تعالی په حکم د ټول بشریت لپاره د هدایت، رحمت او نجات سرچینه وګرځېد. د رسول الله صلی الله علیه وسلم په بعثت سره د نړۍ نقشه بدله شوه، نظامونه بدل شول، زړونه بدل شول او هغه خلک چې پرون د جهل، شرک او انحراف په تیارو کې ډوب وو، د امت مشران، امامان او د بشریت لارښودان شول.

له هماغو خلکو څخه چې پرون به یې ډبرو ته سجده کوله، د امت ستر علماء، فاتحین او لارښودان جوړ شول. د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین په لاس اسلام له عربستان څخه تر عراق، شام، مصر، افریقا، اندلس او د آمو تر غاړو پورې ورسېد. په ختیځ کې د سند تر سیمو او په لوېدیځ کې تر افریقا او اندلس پورې د اسلام پیغام خپور شو. دا هر څه د قرآن او سنتو د برکت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تربیې پایله وه.

له همدې امله امام مالک رحمه الله فرمایي چې که امت په هر وخت کې له ستونزو، سرګردانۍ او فکري بحرانونو سره مخامخ شي، د نجات یوازینۍ لاره هماغه ده چې لومړني مسلمانان پرې اصلاح شوي وو؛ یعنې د قرآن کریم، سنت نبوي او د سلف صالحینو د منهج لوري ته رجوع.

نن ځینې خلک داسې تصور کوي چې که موږ داسې سیاست غوره کړو چې امریکا، چین، روس او نور نړیوال قدرتونه ټول رانه خوښ شي، زموږ ټولې ستونزې به حل شي، هېواد به مو پرمختګ وکړي او عزت به ترلاسه کړو. ځینې داسې محاسبې کوي چې که داسې پالیسۍ غوره کړو چې امریکا هم رانه خوشحاله وي، چین هم رانه خوشحاله وي، روس هم رانه خوشحاله وي او ټول نړیوال قدرتونه زموږ ملاتړ وکړي، نو زموږ وطن به ګل او ګلزار شي او د ټولو ستونزو حل به پیدا شي، خو حقیقت دا دی چې د امت عزت او نجات د الهي احکامو په عملي کولو کې دی، نه د دې او هغه د رضایت په ترلاسه کولو کې. د نجات لاره په قرآن او سنتو کې ده، نه په هغو تګلارو کې چې د دین له اصولو څخه د تېرېدو په بدل کې د نورو خوښي ترلاسه کوي. څوک چې په زهر کې شفا لټوي، پایله به یې شفا نه بلکې هلاکت وي.

زموږ د دې سیمینار موضوع «د قرآن او سنتو په رڼا کې ښه حکومتولي» ده. اسلامي حکومتولي یوازې یو اداري نظام نه دی، بلکې یو الهي امانت دی چې د عدالت، امانتدارۍ او مسؤولیت پر بنسټ ولاړ دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د منصب غوښتنې او د واک د حرص په اړه امت ته مهمې لارښوونې کړې دي. په احادیثو کې راغلي چې هغه څوک چې په خپله د امارت او مسؤولیت غوښتنه کوي او ځان ورته وړ معرفي کوي، د الهي نصرت له ځانګړي تأیید څخه

محرومېږي؛ خو هغه څوک چې د اهليت او وړتيا له مخې ورته مسؤوليت وسپارل شي، د الله تعالی مرسته ورسره مل وي، انسان کله ناکله په خپل ځان دومره باور پيدا کړي چې خپلې وړتياوې په خپله بيانوي، خپل ځان ستايي او د منصب غوښتنه کوي؛ خو د رسول الله صلی الله عليه وسلم منهج دا نه دی. نبوي لارښوونه دا ده چې مسؤوليت امانت دی، نه امتياز؛ او امانت بايد اهل شخص ته وسپارل شي، همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکړی چې حتی د لسو کسانو مشري هم ستر مسؤوليت دی. د قيامت په ورځ به هر مسؤول د خپل مسؤوليت په اړه حساب ورکوي؛ که يې عدالت کړی وي، عدالت به يې د نجات وسيله وي او که يې ظلم کړی وي، هماغه ظلم به يې د هلاکت سبب شي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم د اسلامي منهج پر حقانيت او ثبات د ولاړې ډلې د پېژندنې لپاره «فرقه ناجيه» مشخصه کړې ده، کله چې صحابه کرامو پوښتنه وکړه چې (ناجيه) ډله څوک دي؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «**ما أنا عليه وأصحابي**» يعنې هغه کسان چې زما او زما د صحابه وو پر طريقه روان وي، د دې حديث مبارک اهميت په دې کې دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يوازې د قرآن او حديث د تابعدارۍ په باره کې څه ونه ويل، بلکې د صحابه کرامو د فهم او عمل يادونه يې هم وکړه. ځکه صحابه کرام هغه نسل و چې قرآن کريم په کې نازل شوی و، سنت يې په خپلو سترګو ليدلي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم له مستقيمې روزنې برخمن شوي وو، هر کله چې کوم صحابي د کوم آيت يا حديث په فهم کې تېروتنه کړې، رسول الله صلی الله عليه وسلم يې اصلاح کړې ده. له همدې امله د صحابه کرامو فهم د دين د صحيح فهم معيار ګڼل کېږي، د قرآن کريم او سنتو هغه فهم چې صحابه کرامو درک کړی او رسول الله صلی الله عليه وسلم پرې تأييد کړی، هماغه د دين معتبر فهم دی، د دې حقيقت يوه بېلګه هغه پېښه ده چې د روژې د آيت په تفسير کې له يوه صحابي رضي الله عنه څخه واقع شوه. کله چې د الله تعالی دا قول نازل شو: ﴿حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ﴾، يو صحابي مبارک سپين او تور تارونه تر خپل بالښت لاندې ايښي وو، څو د سهار د وخت د پېژندلو لپاره ترې استفاده وکړي. رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته روښانه کړه چې د آيت مقصد حقيقي تارونه نه دي، بلکې د شپې او ورځې هغه ځرګندې نښې دي چې د سهار له راختلو سره ځرګندېږي. له دې څخه معلومېږي چې هر کله به د دين په فهم کې تېروتنه رامنځته کېدله، رسول الله صلی الله عليه وسلم به يې اصلاح کوله، او کوم فهم او عمل چې د هغه له لوري تأييد شوی، هماغه د دين معتبر تعبير ګڼل کېږي، له همدې امله د قرآن کريم او سنتو تفسير بايد د صحابه کرامو رضوان

الله عليهم اجمعين د فهم او منهج په رڼا کې وشي. که څوک د سياسي مصلحتونو، فکري تمايلاتو يا د بهرنيو قوتونو د خوښۍ لپاره د قرآن او حديث داسې تأويلونه وړاندې کړي چې د سلف صالحينو له فهم سره په ټکر کې وي، دا د دين صحيح منهج نه شي ګڼل کېدای.

اسلامي حکومتولي هغه مهال بريالۍ کېدای شي چې خيانت، دوکه، بې عدالتي او د نااهلو کسانو واکمنېدل پکې ځای ونه لري. په اسلامي نظام کې امانتونه بايد اهل کسانو ته وسپارل شي او د خلکو چارې بايد د عدالت پر بنسټ تنظيم شي.

ځينې خلک هغه کسان (رجعت پسند) بولي چې امت د لومړنيو نسلونو منهج ته رابولي؛ حال دا چې هر ملت د خپل عزت، وياړ او افتخار لپاره خپلو زرينو دورو او سترو شخصيتونو ته رجوع کوي، موږ افغانان هم د خپل تاريخ په اوږدو کې په هغو شخصيتونو وياړو چې د دين، جهاد، عزت او سيادت استازيتوب يې کړی دی؛ لکه سلطان محمود غزنوي، غياث الدين غوري، شهاب الدين غوري، احمدشاه ابدالي، ميرويس نيکه او نور، دا ټول هغه نمونه دي چې زموږ په تاريخي حافظه کې د افتخار او وياړ په توګه ثبت دي،که د دغو شخصيتونو يادول او د هغوی دورو ته رجوع افتخار ګڼل کېږي، نو بيا د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه، حضرت عمر فاروق رضی الله عنه، حضرت عثمان غني رضی الله عنه، حضرت علي کرم الله وجهه او د صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين دورې ته رجوع ولې د اعتراض وړ وګڼل شي؟ د اسلامي امت تر ټولو ستر افتخارات هماغه نسل دی چې د توحيد پيغام يې تر نړۍ ورساوه، د اسلام بنسټونه يې ټينګ کړل او د بشريت د هدايت لپاره يې تر ټولو ستر خدمتونه ترسره کړي که رجوع وي، نو تر ټولو لومړی بايد د هماغه مبارک نسل منهج، سيرت او طريقه د لارښود په توګه ونيول شي.

برعکس، زموږ د تاريخ په ځينو روايتونو کې داسې کسان هم د افتخار د سمبولونو په توګه معرفي شوي چې د اسلام له فتوحاتو سره يې مخالفت کړی، د صحابه کرامو او مسلمانانو پر وړاندې يې جګړې کړې او د اسلامي دعوت او تمدن د پرمختګ خنډ ګرځېدلي دي، دا ډول ليدلوری د اسلامي تاريخ له معيارونو سره سمون نه لري؛ ځکه مسلمانان بايد خپل افتخار له هغو شخصيتونو او دورو سره وتړي چې د اسلام، توحيد او اسلامي تمدن د پياوړتيا استازيتوب يې کړی وي.

د افغانستان د معاصر تاريخ په ارزونه کې هم ډېر ځايونه له انصاف څخه کار نه دی اخيستل شوی. ځينې شخصيتونه د افتخار د سمبولونو په توګه معرفي شوي، حال دا چې د هغوی په سياستونو او فکري تمايلاتو باندې جدي نيوکې موجودې دي. امان الله خان د هغو اصلاحاتو او سياستونو استازيتوب کاوه چې د اسلامي ټولنې له ارزښتونو سره يې ټکر درلود، د بې‌حجابۍ، عريانيت، لوېديځ تقليد، د اسلامي شعائرو د کمزوري کولو او د ټولنې د غربي کولو

هڅې د هغه د دورې له مهمو ځانګړنو څخه ګڼل کېږي، له بده مرغه ځینې تاریخ لیکونکو د هغه د دورې په ستاینه کې دومره مبالغه کړې چې د هغه له اسلامي اصولو په وړاندې موقف او فکري او عملي تېروتنې یې تر سیوري لاندې راوستې دي، آن داسې کسان هم شته چې د معاصر تاریخ بېلابېلو سیاسي جریانونو ته یې په افتخار سره د (اماني نهضت) د دوام نوم ورکړی او د هغه انحرافي فکر د پرمختګ او اصلاح مترادف ګڼي؛ حال دا چې د اسلامي معیارونو له مخې باید هر شخصیت او هره دوره د دین، عقیدې او اسلامي ارزښتونو د خدمت او یا مخالفت پر اساس وارزول شي.

د ملت افتخارات باید له هغو شخصیتونو او دورو سره وتړل شي چې د دین، عزت، استقلال او اسلامي هویت د ساتنې استازیتوب یې کړی وي، نه له هغو تجربو سره چې د اسلامي ارزښتونو د کمزورۍ کولو لامل ګرځېدلې وي، حقیقي بریا هغه نه ده چې خلک یې د خپلو سیاسي تحلیلونو او مادي معیارونو له مخې تعریفوي، بلکې حقیقي بریا هغه ده چې الله تعالی یې تعریفوي: ﴿وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا﴾ او همدارنګه: ﴿فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ﴾ نو حقیقي کامیابي د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم په اطاعت کې ده، او نجات په دې کې دی چې انسان داسې ژوند تېر کړي چې د قیامت په ورځ له دوزخ څخه وژغورل شي او جنت ته داخل شي.

موږ باید د افغانستان د آبادۍ، ثبات او پرمختګ لپاره د قرآن او سنتو پر بنسټ د اسلامي منهج د پلي کولو هڅه وکړو. زموږ هدف باید دا نه وي چې د کفارو او نړیوالو قدرتونو د خوښۍ لپاره د دین کوم حکم تر پښو لاندې کړو؛ بلکې زموږ د بریا او عزت راز په دې کې دی چې د الله تعالی د احکامو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو او د سلف صالحینو د منهج پیروي وکړو.

په پای کې یو ځل بیا د دې سیمینار ټولو ګډونوالو، د مقالو ټولو لیکوالانو او د علمي بحثونو ټولو برخه‌والو ته ښه راغلاست وایم او له الله تعالی څخه غواړم چې زموږ دا علمي هڅه د اسلام، هېواد او امت لپاره د خیر، برکت او هدایت وسیله وګرځوي.

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمین.

شیخ الحدیث- مولوي فریدالدین محمود
د علومو اکاډمي عمومي رئیس

# مقدمه

الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین و بعد!

موضوع خلافت و حاکمیت انسان در روی زمین، یکی از مسائلی است که قبل از پیدایش آدم، مورد بحث بوده است؛ زیرا الله متعال می فرماید: ﴿وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي ٱلْأَرْضِ خَلِيفَةً﴾ یاد آور آنگاه که پروردگارت به فرشتگان گفت: همانا من در زمین خلیفه ای را مقرر می دارم.

از این آیه دانسته می شود که الله متعال در ضمن داستان خلقت آدم علیه السلام بیان داشته که قبل از آن به فرشتگان فرمود که من در روی زمین خلیفه ای مقرر می دارم تا در آن به حاکمیت و آبادانی آن بپردازد. یعنی ما خلیفه ای را مقرر می داریم تا به آبادانی زمین و پیاده ساختن احکام من در آن اقدام نماید .

لهذا در قرآن کریم، حکومت نه تنها امری بشری و اجتماعی تلقی شده، بلکه به عنوان امانتی الهی معرفی می شود که شایسته ترین افراد، بر اساس معیار های الهی، باید آن را بردوش گیرند. بر این اساس، حکومت داری خوب در اسلام صرفاً تدبیر امور سیاسی نیست؛ بلکه تحقق عدالت، امنیت، تقوا، مشورت و رشد معنوی جامعه را نیز در بر دارد. اسلام، معیار هایی را برای حکومت مطلوب و حکومت داری خوب ترسیم می کند که اگر در یک نظام سیاسی تحقق یابد، آن حکومت در مسیر صلاح، عدالت، امنیت و رشد انسانی قرار می گیرد. این شاخص ها، پایه های اصلی حکومت داری خوب در نگرش قرآن هستند که در تقابل با ویژگی های حکومت های طاغوتی قرار دراند.

بنابر این از دیدگاه اسلام عزیز، حکومت خوب به نظامی گفته می شود که مطابق شریعت غرای محمدی تأسیس و مسلمانان بر مبنای ایمان، اخلاص، صداقت، امانت و روحیهٔ اخوت امور آن را به پیش برده و از آن پاسداری نمایند.

قابل ذکر می دانم اینکه به لطف پروردگار عزیز و حکیم جلت عظمته در کشور ما نظام اسلامی روی کار آمده و امید است که دولت مردان ما از این امانت الهی به خوبی پاسداری نموده و به آبادانی زمین و پیاده ساختن احکام الله متعال همت بگمارند.

## د افغانستان د علومو اکاډمي د عمومي رئیس پرانیستې وینا

رهبری اکادمی علوم افغانستان تحکیم حکومت داری خوب را مسئولیت ایمانـی خـویش دانسته سیمینار علمی - تحقیقی ای را تحت عنوان (راه های حکومت داری خـوب در روشـنی قرآن کریم و سنت نبوی) برگزار نمود که در سیمینار مـذکور از طـرف محققـین و دانشـمندان مقالات مختلفی ارائه گردید؛ در این مقالات جوانب مختلـف حکومـت داری خـوب مـورد بحـث قرار گرفت که مجموعه مفالات آن اینک به هدایت معاونیت محترم علوم اسلامی اکادمی علـوم به زیور چاپ آراسته گردید.

سرمحقق نجیب الله "امین"

عضو علمی مرکز تفسیر و حدیث